مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۰۹/۲۴

مابنامی مجلس

(۲۳)



میلمه، له ستړي مشي وروسته سمدلاسه وغځیده .

ما ویل: خیر شه، څنګه داسي بي تابه یي؟

ـ ټوک ـ ټوک یم، لاسونو ته مي وګوره، ستاسو شاعرانو په اصطلاح سم له ملغلرو ډک دي.

ـ فرهاد صیب! د کومي شیریني په مینه کي دي غر سوری کړی چي داسي ستړی ـ ستړی یي؟

ـ ههه، دي وخت کي له خپلي شیریني هم پټ ګرځم.

ـ نو بیا لاسونه دي ولي له تنباکو ډک دي؟

ـ ټوله ورځ مي کروندو کي کار کړی. هرزه بوټي مي لرې کړي. دا بوټي هم له ځمکي تغذیه کیږي او هم بیا د همدي ځمکي فصل ودي ته نه پریږدي. د زراعت ماهرینو ویل: سړ به ایله له فصله خوند واخلي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

پیاله یې پورته کړه، ګوټ یې وکړ او بیا یې ویل:

رښتیا، دا افغانستان هم له هرزه خلکو ښه سم خلاص نشو، هغه چې تغذیه کیدل به دلته؛ خو هیواد یې ودې ته نه پریښوده. د دې مفسدینو له لاسه اکثریت پروژې په کمزوري معیار جوړې شوې. آن د پلازمېنې سړکونه وګوره چې بیا، بیا خراب شول.

اوس کار ته ښه زمینه برابره شوه. اوس د مفسدینو او باجګیرانو لاسونه کوتاه شول؛ خو اوس...

ـ وایه کنه، څنګه دې له بریک سره هیڅ بریک هم کش کړ او ځای په ځای ودریدې؟

ـ مطلب مې دا و چې اوس کار وشي. خو خبره دا ده چې د کار درک نشته. ویریږم چې شته پروژې له منځه لاړې نشي. که داسې وشول نو بیا ترمیم یې خوب وګڼه.

ـ داسې هم نه ده. دلته به کارونه هم پیدا کیږي او غټې پروژې به هم شروع کیږي؛خو چې خلک دا وطن خپل وګڼي او دا حس هله پیدا کیږي چې د خلکو ارزښتونو ته درناوی وشي. خلک په کارونو او تصمیمونو کې شریک شي او په اصطلاح میم زرما ټوله زما نشي.

ـ ګورو به. رښتیا؛ تا خو د عرب متحده اماراتو دوره هم کړې. ما اوریدلي و چې دا سیمه دیرش - څلویښت کاله پخوا شګلني او وچې دښتې وې، خو اوس په ښیښه یې ودانیو او شنو پارکونو بدلې شوې، د دنیا سوداګر او سیلانیان ډک جیبونه ور روان دي، راز یې په څه کې وینې؟

ـ څومره چې ما حس کړه؛ کیسه دا ده چې هلته فردي ازادۍ تامین او کار اهل کار ته سپارل شوی. آن له نورو غیر اسلامي هیوادونو یې مسلکي او د کار خلک را غوښتي او خپل وطن یې پرې اباد کړی. اوس یې ولس ارام، په ګیډه موړ او سوکاله دی او له هر لمانځه وروسته خپلو شیخانو ته دعاوې کوي.

ـ اممم، دا خبره خو ده. ته راډیو چالان که چې تازه مقرري شوي کنه او د کار خلکو ته یې کار سپارلی کنه.
ـ دا خبرې پریږده، چای دې سوړ شو.

میلمه ټوله پیاله په سر واړوله، پورته شو او بیا یې ویل:

زه ډېر ښه او ایماندار سړی یم، کور هم په ما ودان دی؛ د دې ودانۍ لپاره ډېره قرباني ور کوم؛ خو دا چې میرمن مې په پخلي کې تکړه ده، زه اخلاقا دیګ ته ګوتې نه وروړم او هغه مسولیتونه ادا کوم چې له عهدې یې وتلی شم. ور ځم چې د دیګ لپاره ورته لرګي مات کړم.

ـ ته خو سم د ټولنیزو قراردادونو متخصص یې، سم ژان ژاک روسو یې. د کور د ابادۍ راز دې همدې کې دی چې کار پکې اهل کار ته سپارل شوی.

میلمه نرۍ موسکا وکړه او له حجرې ووت.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ